AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۸/۰۶/۰۱

# د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې

## د تاوتریخوالي سونامي

### څلورمه برخه

### (د جون لومړی نیټه د ماشوم نړیواله ورځ؟)



تاو تريخوالی لکه تندر له بل ځای څخه نه را پريوزي، بلکي همدا ټولنه ده او همدا مشران دی چي له کوچنيانو او ماشومانو سره يې په پوهيدنه يا نه پوهيدنه کې، په رنګارنګ بڼو تر سره کوي.

*****

زموږ د ګلاليو ماشومانو او کوچنيانو ستړګي او څيري موږ ته وايي :
موږ د ژوند په هغه پړاو کې يو چي نه غواړو د خبرو اوريدو په ځای مو پر مخ څپيړي ولګيږي، موږ نه غواړو چي د مثبتو لوستونو او موزيک د اوريدو پر ځای د ټوپک او بمونو درزا واورو.

*****



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

د ماشوم د حقونو اړوند، که د افغانستان ټولنه، په ټول کې و ارزول شي، داسې باید وویل شي چې زموږ ټولنه د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د مځکې پر مخ د یوه ربښتیني دوزخ حیثیت لري

*****

زموږ په هیواد افغانستان کې، که پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د روان تاوتریخوالي د مسألې د څېړولو په دایره کې دا پوښتنې مطرح شي چې:

ــ له ماشومانو او کوچنیانو سره تاو تریخوالی څه مانا،
ــ له ماشومانو او کوچنیانو سره کومو چلندونو ته تاوتریخوالی ویلای شو؟

دجون لومړۍ په نړۍ کې د ماشوم د نړیوالي ورځې په توګه لمانځل کیږي، خو زموږ په هېواد کې نه یوازې دا چې د ماشومانو او کوچنیانو له پاره څه نه دي شوي، بلکې په نویو راپوروَنو کې ویل شوي چې افغانستان د هغو شپاړسو هیوادونو په لست کې شته چې ماشومان په کې له ډیرو ستونزو سره مخ دي. د امریکا غږ په پښتو ویبپانه کې د یو راپور په ترڅ کې داسې راغلي دي:

«په افغانستان کې د سایف د چلډرن څانګه وایي افغانستان د نړۍ د هغو ۱۶ هیوادونو په ډله کې شامل دی، چې ماشومان په کې د ډیرو ستونزو سرمخامخ دي.»

ښایي د دولت د دري ګونو قواوو ډیرۍ غږي په  دې پوه نه شي. ځکه چې د یویشتمې پېړۍ په دې ۲۰۱۸ کال کې هم دغه ډله خلک ماشومانو او کوچنیانو ته د سلګونو کلونو وړاندې نظریاتو له کړکۍ نه ګوري. اوس هم په ډیرى کورنیو کې د دې جملې مفهوم د یو حاکم قانون په ډول حکومت کوي:

«ته ماشوم یې، غلی دې په ځای کینه!»

او که ماشومانو او کوچنیانو ته د نوي عصر د غوښتنو پر اساس، د نوي تکنالوژۍ په چوکاټ کې، په نوې بڼه وکتل شي او ارزښت ورکړل شي؛ نو زموږ په ټولنه کې دا کار ښایي دوه سلنه هم نه وي شوی.

څنګه چې مخکې عرض وشو اړوند مسؤلین ماشوم زوروَنه هیڅ نه پیژني، او که یې پیژني هم، دوی یوازې د ماشومانو او کوچنیانو وهلو ټکولو ته ماشوم زوروَنه وایي؛ هغه هم ښایي په ټوله دولتي دستګاه کې داسې مرجع یا پته نه وي چې د ماشومانو وهل ټکول دې په کې ثبت شوي وي چې اوس یې کوم څیړونکي د ولې؟ او څرنګوالي په باب څیړنه وکړي.

تر ټولو جالبه او دردونکي خبره بیا دا ده چې د ماشوم زوروَنې په دایره کې د ماشوم زوروَنې هر ډول چې پر ماشوم باندې تطبیق شي، ډیر ځلې هغه د ځانګړو باورونو یا «شرم» تر پردې لاندې پټیږي، دا چې ماشوم ته ضرر رسونه څومره د هغه پر جسم او روان باندې اوسمهالي او یا اوږده منفي اغیز پریستی شي، هغه بیا دوی یا هیڅ نه پرې پوهیږي او که پوهیږي هم، په یو ډول نه یو ډول تیښته ورنه کوي.

هر چیرې او هر کله چې له ماشومانو او کوچنیانو سره د چلن موضوع یا د تاوتریخوالي موضوع مطرح کیږي؛ په نړیواله کچه د ماشوم زوروَنې هماغه یو منل شوی تعریف په نظر کې نیول کیږي چې:

«ماشوم یا کوچنې ته هر ډول ضرر رسول، د میندو پلرونو یا ماشوم – کوچنې ساتونکو له لوري هر ډول عمدي یا غیر  عمدي نه پاملرنه چې د ماشوم – کوچنې بدن سلامتیا ته، د هغه  روان یا نیکمرغی ته، د هغه آسودګی او ګټو ته تاوان ورسوي؛ ماشوم زوروَنه ګڼل کیږي.»

په ډیرو ټولنو کې داسې کیږي چې ماشومان ـ کوچنیان، له پیدایښت سره سم، د میندو پلرونو د جنسیت، مذهب، قوم او ځینو نورو دلایلو له مخې؛ له تاوتریخوالي سره مخ کیږي، له بده شامته چې دا خبره زموږ په وطن کې ډیره عامه ده.

ماشومان ـ کوچنیان به هیڅ پر ځان خبر نه وي، خو له زورزیاتي سره مخ وي، هغه هم په داسې افراط سره چې بیا د متضرر ماشوم درملنه په ټول ژوند کې هم نه کیږي او له هغه نه رازیږیدلې ستونزې لکه ساري ناروغي پرګردې ټولنې باندې منفي سیورى غوړوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولـئ



که څوک غواړي چې د افغانستان د ماشومانو او کوچنیانو زورونه او له هغو سره روان تاوتریخوالي وپیژنی او د مخنیوي هڅه یې وکړي؛ تر ټولو مخکې باید د دغو ستونزو او تاوتریخوالي د رامنځته کیدو عوامل وپیژني او د هغو سته وچه کړي، د ماشومانو ـ کوچنیانو ارزښت ټولنې او خلکو ته وروپیژني او د مدرنې او سالمې ښونې روزنې له پاره یې فکر وکړي.

نور بیا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ